Fact Sheet

# AFGHANISTAN

UNEP

# په افغانستان کې د اقلیم بدلون په وړاندې د سازګارۍ او مقاومت/انعطاف پذیرۍ وړتیا جوړول (۲۰۱۳-۲۰۱۷)





پر هیواد باندې د اقلیم د بدلون احتمالي اغیزو له امله، او هم د پلان جوړولو او اغیزو ته د رسیدګۍ محدود وړتیاوو په سبب، افغانستان په نړۍ کې د اقلیم په وړاندې یو له تر ټولو ډیر زیان منونکي هیواد په توګه درجه بندي شوېدی. د چاپیریال نړیوال تسهیلات (GEF) په مالي مرسته، د ملګرو ملتونو چاپیریال پروګرام (UNEP) او د چاپیریال ساتنې ملی اداره(NEPA)،»د اقلیم بدلون په وړاندې د سازګارۍ او مقاومت/انعطاف پذیرۍ وړتیا جوړولو پروژه» چې په هیواد کې د اقلیم په وړاندې د سازګارۍ لومړنۍ بشپړه پروژه ده، په ګډه پلې کوی. د دغې څلور کلنی پروژې (۲۰۱۳ - ۲۰۱۷) موخه دا ده چې کلیوالي ټولنو مقاومت/انعطاف پذیرۍ زیات او په هیواد کې د ملی او محلی ادارو د اقلیم بدلون خطرونو ته د رسیدګۍ لپاره، په ځانګړې توګه، د هغو سیمو چې د اورښت او د حرارت نواسان/غیر ثابتې درجې لرونکي دي، وړتیاوې لوړ کړي.

### د دولت کلیدي شریکبانان:

- دافغانستان د هوا پیژندې اداره (AMA)
- له طبیعی ناورینونو سره د مبارزې ملي اداره (ANDMA)
- د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت(MAIL)
- د انرژۍ او اوبو وزارت (MEW)
- د کلیو بیا رغوونې او پراختیا وزارت(MRRD)

### د پروژې پلې کوونکي ادارې:

- د ملګرو ملتونو چاپیریال پروګرام (UNEP)
- د چاپیریال ساتنې ملي اداره (NEPA)
-

### د پروژې نمایش سیمې:

- بدخشان: آبخیزه او آبی کرنه
- بلخ: للمی کرنه او تحقیق
- دایکندی: د ښا شا او خوا طبیعی سیمو منظره
- بامیان: د آبخیزې مدیریت
- کابل: ملي پالیسي او وړتیا جوړول

## د پروژې مختلفې برخې

### ۱. د اقلیم د خطر ارزوونه، نظارت، پیش بینی، او معلومات

د اوبو له سکتور څخه را ولاړو د اقلیم د بدلون خطرونو د ارزوونې او پیش بینی لپاره د دولتی ادارو وړتیا او پوهې لوړول. پدې کې د ادارو تقویت او ټریننګ ورکول، د له پیښې څخه وړاندی خبر دارې ورکونکې سیستم لپاره د طرزالعملونو جوړول، او د اقلیم بدلون خطرونو په اړه د پالیسیو جوړونکو لپاره د لنډو تخنیکی معلومات برابرول، شامل دي.

### ۲. د اقلیم بدلون سازګارۍ او د جوابګوېی ستراتیژۍ:

په ملي پالیسیو، پلانونو، پروګرامونو کې د اقلیم بدلون خطرونو شاملول،د پیژندنې او ارزوونې لپاره د انکشافی افزارو او میتودونو په ګډون، د اوبو په سکتور کې د اقلیم بدلون د سازګارۍ اقداماتو شاملول، د اقلیم بدلون په هکله د بین الوزارتي همغږي کمیټې (NCCC) تقویت، او په سکتوري پالیسیو کې د اقلیم بدلون د سازګارۍ انتخابونو شاملول.

### ۳. په څلورو ولایتونو کې د اوبو زیرمو او د آبخیزه وو د مدیریت په هکله د طریقو/ عملکردونو ښودل او ازمایل:

د محلي ادارو د وړتیا جوړولو له لارې د اقلیم بدلون په وړاندې د زیان مننې کمول، او د بدخشان، بلخ، بامیان او دایکندي په ولایتونو کې د اوبو د اغیزمن کارولو لپاره د ټولنو د سازګارۍ پروژې. تر هدف لاندی پروژو کې آبي او للمی کرنې، آبخیزه او د اوبو زیرمو منسجم مدیریت، او د ښار شا او خوا سیمو د سازګارۍ انتخابونه شامل دي.

### ٤. د سازګارۍ زده کول او د حاصله تجاربو او تر ټولو ښوو طریقو نشرول

د اوبو زیرمو ته د اقلیم له بدلون څخه را ولاړو خطرونو په وړاندی د مقاومت/انعطاف منني د لوړولو لپاره تر ټولو ښو طریقو باندي د پوهی زیاتوالی. پدې کې د معلوماتو د شریکولو د ملي پلت فورمونو را مینځته کول، د منطقوی او نړیوالو شبکو سره د اړیکو ټنګول، د اقلیم خطرونو او د سازګارۍ د انتخابونو په اړه د پوهي زیاتول، او په ټول افغانستان کې د پروژې ترقۍ لپاره د منابعو پکار اچول.

gef